مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر ش میره کی ۲۰۲۶/۰۹/۰۹

# د تایراید غده کم کارکول یا Hypothyroidism

ګرانو دوستانو ! تل هڅه وکړي څه په کال کې یو ځلې خپل ځان چک آپ کړي او د ډیرو ناروغیو څخه به مخ نیوی وکړي . نو لاندې په زړه پورې معلومات هم ولولي .

**د تایراید غده کم کارکول یا Hypothyroidism څرنګه ناروغي ده ؟**

Dr sh Mirakai

دتایراید غده د انسان په ستوني کې شتون لري. او دنده یې د تایراید هارمون جوړونه ده که چیرته د تایراید هارمون کچه په بدن کې ټیټه شي نو لاندې بدلونونه په بدن کې رامنځ ته کیږي :

۱ـ د اشتها کمیدل خو وزن بیا ډیرېږي
۲ـ د سړې هوا نه زغمل
۳ـ وچ او ځیګه پوستکی کېدل
۴ـ په دوامداره قبضیت لرل
۵ـ ژر په قهرکېدل،غوسه او نورې رواني ستونزې
۶ـ په دومداره توګه ستړیا،خستګي او سُستیا
۷ـ د عضلاتو شخیدل او دردونه یې
۸ـ د ویښتانو توېیدل،او نري کیدل
۹ـ او په ځینو انسانانو کې د جاغور پیدا کیدل
۱۰ـ د زړه د درزا یا ضربانو کمیدل

**د تایراید هارمون تشخیص څنګه وکړو؟**

په وینه کې د تایراید هارمون اندازه باید وکتل شي. او له دې سره لاندې معاینې اړینې دي. Thyroid function test Thyroid scan چې باید وشي.

**د تایراید هارمون عوامل څه وي؟**

هغه عوامل او سببونه چې د تایراید هارمون ډېر والي سبب کېږي عبارت دي له:

۱ـ د تایراید ضد درمل څخه ګټه اخیستل
۲ـ د تایراید د غدې جراحي عملیات کول
۳ـ په ډېریو وختونو کې زموږ د بدن دفاعي ځواک د دغې ناروغی سبب ګرځي لکه Hushimato thyroiditis
۴ـ د لایزر او کیماوي شعاع ګانو استعمال هم کولی شي د نوموړې ناروغی سبب وګرځي.
۵ـ په بدن کې د ایوډین کمښت
۶ـ د تایراید غدې نشتون په بدن کې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۷ـ د نخاميه غدې سرطانونه هم د تايرايد د رامنځته کېدو سبب کېږي.


**د تايرايد ناروغۍ درملنه څنګه کېږي؟**

تايرايد سره له دې چې ځينو ته يوه عادي خبره ښکاري خو دا ناروغي انسان ته خپلې ډېرې ستونزې رامنځته کوي. مونږ دلته په لاندې ډول د تايرايد هارمون د ډېرېدو او ورسره هغه درملني بيان کړي چې بايد په کوم ډول د دې ناروغۍ درملنه وشي:

د تايرايد ناروغۍ درملنه يې اسانه ده دا چې د نوموړې هارمون کچه ټيټه او يا هم مطلق صفر ده نو بايد ناروغ ته د تايرايد هارمون ورکړل شي.

**د دې ناروغۍ له امله زمونږ په بدن کې څه پېښيږي:**

۱ـ په وينه کې د شحمياتو ( غوړو يعني وازده ) لوړيدل او په پايله کې د ويني غوړ هم پيدا کېږي.
۲ـ د زړه کم کاري او د زړه فعاليت کمېدل
۳ـ د مکروبونو په وړاندې د بدن د دفاعي ځواک کمزوري کېدل
۴ـکوما ته تلل هم د تايرايد غدې له امله پېښېږي چې دا يې تر ټولو لويه ستونزه او خطر ده چې مونږ ورسره پېښوي.
۵ـد لويو کولمو پړسيدل او التهابي کيدل يې چې دا په خپله د کولمو سرطان لپاره لاره هواره کوي.
۶ـد حافظې کمزوري پيدا کېدل
۷ـپه غوږونو کې د غائب انسان اوازونه چې په ورځيني ډول مونږ له ډېرو ستونزو سره مخ کوي او د همدې امله رواني ناروغۍ هم پيدا کېږي.
۸ـ د ليونتوب او عصبي کمزوري پيدا کېدل
۹ـ په بدن کې د ستوني په قسمت کې د جاغور پيدا کيدل
د تايرايد هارمون کمښت په بدن کې مونږ له ګڼو ستونزو سره مخامخ کوي نو بايد هر څه ژر ډاکټر ته ورشو او اړوندې معاينې او درملنې وکړو.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ